(١)

# د امت د علماؤ او د فتني د علماؤ ترمنځ لوستونکی او مهارت لرونکی امت

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ» ژباړه: «د دوی څخه پوښتنه وکړه: "ايا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي يو شانته کېدای شي؟" - نصيحت خو د پوهي خاوندان مني»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د اسلام مبارک دين د علم د غوښتني او د ترلاسه کولو ته تشويق او انسانان يی ديته هڅولي ترڅو د علم په ترلاسه کولو کې کوښښ وکړي اوپدغه ډګر کې د قرانکريم لومړني آيتونه هم د لوستلو په هکله راغلي وو لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ» ژباړه: « اې پېغمبره (ص)!] ولوله، د خپل رب په نوم چې هغه (ټول مخلوقات) پېدا کړي، د کلکي شويويني له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ؛ ولوله، او ستا رب ډېر مهربان دی؛ چې هغه د قلم په مرسته (انسان ته) علم وښودی؛ انسان ته يې هغه علم ورکړ، چې هغه پرې نه پوهېدی» نو د الله جل جلاله له لوريپدي باندي امر شوی دی او وحي همپدي باندی نازل شوی ده او امر يی پدي کړی وو چې بايد لوستنه وشي

چې دا د علم د دروازو څخه لومړني دروازه ګڼل کیږي له هغه نه وروسته بیا قلم ته اشاره وکړي شوه چې هغه هم د علم د لیکني او یو بل ته د رسوني یوه لویه وسیله ده او پدي کې د ټولو لپاره یو ښکاره بیان دی چې د علم فضیل ډیر لوړ دی او هغه ترلاسه کولو لپآره د اسلام مبارک دین هڅونه کړی ده او پدي کې په ښکاره ډول سره اشاره شوی ده چې د اسلام مبارک دین د علم او دپوهه او د معرفت دین دی او د مسلمانانو امت او ملت د علم او د تمدن جوړونی یو لوي امت ګڼل کیږی همدارنګه په قرانکریم یو بل سورت هم په بشپړه توګه د قلم په نوم نومل شوی دی او الله جل جلاله پدغه سورت کې داسی فرمایلي دي: « ن * وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ» ژباړه: « نون؛ قسم دی په قلم او په هغه څه چې لیکونکي یې لیکي» پدي کې پدي باندي ټینګار یی کړی دی چې د علم د ټولو وسایلو او د علم د اهمیت لپآره ځانګړي پاملرنه ورته شوی ده.
همدارنګه الله جل جلاله خپلو نبیانو ته امر کړي دی چې په دنیا کې د علم د ترلاسه کولو لپاره باید هڅه او کوښښ وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دی: « وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا» ژباړه:« و دُعا وکړه چي ای پروردګاره! ما ته لا زیات علم راکړه» پیغمبرصلی الله علیه وسلم هم د علم په لاره کې د وتلو لپآره یو لوي ځاي ټاکلی دی او دا یی د الله په لاره کې د تلو سره برابر کړ دی همدارنګه پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:چې دا د علم په ترلاسه کولو کې چې دا پخپله ددی لامل کیدلي شي چې د جنت ته د داخلیدو څخه یو لامل شي لکه چې پیغمبر صلی اله علیه ددی په هکله فرمایلي دي: څوک چې د لم په غوښتنه او د ترلاسه کولو لپاره وځي نو هغه د الله جل جلاله په لاره کې دی تردي چې بیرته راوګرځي نو په علم سره د هیوادونو جوړونو د ملتونو وده او پرمختک او همدارنګه بشریت خپله مرتبه او شان ترلاسه کولی شي همدارنګه قرانکریم د علماؤ مرتبه ډیره لوړه کړی ده او د هغوي د مرتبي او منزلي په هکله فرمایلي دي: « يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ

دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ، شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيم» ژباړه: « ستاسي څخه چي کوم کسان ایمان لرونکي دي او کومو کسانو ته چي علم ورکړ شویدی، الله به هغو ته لوړي درجې په برخه کړي. او تاسي چي څه کوئ، الله پرې ښه خبر دی»، همدارنګه الله جل جلاله ددی ګواهي ویلی ده چې علماء هغه څوک دی چې د الله ج جلاله څخه ویریږي لکه چې فرمایي: « إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ، الله په خپله ددې خبري شاهدي ویلي ده چي له هغه پرته بل هیڅ خدای نشته؛ او پرښتي او ټول اهل علم هم په رښتیني او منصفانه توګه پردې شاهدان دي چي له هغه زور ور، باحکمته څخه پرته په واقع کي هیڅ بل خدای نشته» ژباړه: «حقیقت دا دی چي د الله د بندګانو څخه یوازي عالمان د هغه څخه ویریږي. بېشکه الله برلاسی او ښونکی دی».

همدارنګه د علم د مرتبي د لوړوالي په هکله نور هم بیلابیل ایتونه راغلي دي چې پدي کې د ځیني ایتونو یادونه کوو: « قُلْ مَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ، قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا، وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ » ژباړه:« دوی ته ووایه: "که ما ستاسي څخه کوم اجر غوښتی وي، نو هغه دي همدا تاسي ته مبارك وي. زما اجر خو پر الله دی او هغه په هر څه باندي شاهد دی، دوی ته ووایه: "زه پدې وظیفه باندي ستاسي څخه څه اُجرت نه غواړم. زما اُجرت یوازي دا دی چي د چا زړه وغواړي، هغه دي د خپل رب لاره غوره کړي، زه پدې کار باندي ستاسي څخه د څه اُجرت غوښتونکی نه یم. زما اجر خو د مخلوقاتو د پالونکي په ذمه دی» همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدي باندي ټینګار کړی دی او د علم د خاوندانو فضیلت یی بیان کړي چې دوي د انبیاؤ وارثان دي او پدي هکله ډیرحدیثونه یی روایت کړي او ویلي دي

چې علماء هغه څوک دي چې انسانان سمي لاري ته برابربروي جوړښت کوي او سمون رامنځته کوي.
همدارنګه بی له شکه د علم خاوندان هغه څوک دي چې الله جل جلاله دویته عزت ورکړي ده او د هغوي مرتبه یی لوړه کړي ده همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم د هغوي صفت یی کړي اوویلي چې دوي هغه څوک دي چې لوي امانت یی ترلاسه کړي چې هغه د علم او د دعوت او خلکو ته د هغه د رسولو امانت دی نو له همدي لپاره پدي باندي ټینګارشویدی چې د امت مخلصین خلک هغه څوک دي چې هغه علماء وي او دوي پخپل دغه دنده کې الله غوره کړي دي ترڅو امت ته د علم رسونه وکړي اود اسلام مبارک دین ورته ورسوي همدارنګه الله جل جلاله دوي پدي سره د نورو څخه لوړ کړي دي او پدي هکله بیلابیل ایتونه راغلي دي چې ټول پدي باندي ټینګار کوي چې د علماؤ شان او عزت ډیر لوړ دی په حقیقت کې د امت علماؤ هغه څوک دي چې خپل وخت د امت لپاره مصرفوي او د خپل د د ین خدمت کوي او د هیوادونو خدمت ترسره کوي او پدغه لاره کې د منځلاریتوب د زغم او رحمت څخه کار اخلي او ددوي دعوت ددي لامل کیږي چې بیلابیل هغه څوک چې ددوي په ټولنه کې ژوند کوي او له هغه وروسته چې کوم نسلونه راځي د ټولو لپاره ګټه رسوي.
هدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدي هکله بیلابیل حدیثونه رواړي دي چې ټول په همدي باندي ټینګار ګوي چې که یو انسان مړ کیږي نو هغه یوائې دري شیان پاتي کیږي چې یو صدقه جاریه ده یو علم دي چې خلکو ته پري ګټه رسول شی یی او بل هغه نیک عمله اولاد دی چې د هغه لپآره دعاء کوي او همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم به تل دعاء کوله او غوښتنه به یی کوله چې الله جل جلاله دي ورته داسی علم ورکړي چې هغه نورو ته ګټه رسونکې وي.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د امت اخلاص مند علماء د سمي لاري خاوندان د اقتصاد عدالت سر لاري دي چې تل یي د منځلاریتوب لپاره کار کړی او د الله تعالی ددین څخه یي د ناپوهانو تندروانو نظرونه لري کړي دي.

خو د فتني علماء بیا هغه څوک دي چې د الله تعالی دین ئي د خپلو موخو او شخصي اغراضو لپاره یوه وسیله ګرځولې ده دوی بیلابیل داسې فتواګانې صادروي چې ضرر رسوي او ګټه نلري بې اتفاقي رامنځته کوي یووالي نه ویجاړول کوي جوړښت نه او د امت لپاره د تکفیر دروازه پرانیزي هغه چې اسلام خبرداری ورکړی چې باید داخل نشي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي هر هغه څوک چې خپل ورور ته کافر ووایي که هغه وي خو سمه ده او که نه وي نو بیا بیرته په هغه ګرځي.

د فتني علماؤ تندروي سختي او تنګسیا په خلکو باندې خپله تګلاره ګرځولې ده دا هغه تګلاره ده چې د اسلام د مبارک دین د منځلاریتوب زغم څخه لیري ده ځکه اسلام د خلکو څخه هر ډول سختي او مشقت لري کړي دي لکه چې الله تعالی فرمایي: « وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ » ژباړه:« او په دین کښي یې پر تاسي څه تنګي نه ده راوستې»؛ او نبي

كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي تاسو زيري وركوونكي اوسئ نفرت خپروونكى نه آسانتيا كوئ سختي مه كوئ؛ نو په فتوا كي د تشدد تندروى څخه كار اخيستل د منځلاريتوب او د زغم سره په ټكر كې ده هغه چې اسلام مبارک دين پري ټينګار كړى لكه چې الله تعالى فرمايي:« وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ» ژباړه:« او په همدې ډول موږ يو اُمت وسط (غوره امت) ګرځولي ياست چي تاسي پر نړيوالو شاهدان»؛ او د وسطيت معنا برابري او عدالت دى او د سختۍ او تندروۍ څخه لري والى دى چې د امتونو د هلاكت لامل ګرځي لكه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: اى خلكو تاسو په دين كې د تندروۍ او سختۍ څخه ځان وژغورئ ځكه هغه څوک چې له تاسو څخه مخكې هلاک شوي هغوى په دين كې د حد څخه تيرى كولو او ډ سفيان الثوري په حديث كې هم په همدې ټينګار شوى.
د فتني د علماؤ سره هغه څوک هم يوشان دي چې بي له علمه خبرې كوي او فتواګانې وركوي او امت د اسبابو د نيونې څخه منعه كوي دوى دا ندي درک كړي چې د دنيا آبادول د اديانو د مهمو مقاصدو څخه ګڼل كيږي او خلک تر هغه زمونږ د دين درناوى نه كوي ترڅو چې په دنيا كې هم پرمختګ ونكړو نو له همدې لپاره په ټولو چارو كې بايد كوټلي ګامونه پورته كړو څوک چې لدي څخه منعه كوي هغوى غلط پوه شوي دي پدي هكله الله تعالى فرمايي:« رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ» ژباړه:« او څوك وايي اې زمونږ ربه! موږ ته هم د دنيا او هم د اخرت ښېګڼي را په برخه كړه او موږ د اور له عذابه وساته».
مونږ دلته پدي باندي ټينګار كوو چې د نا اهله خلكو له لوري د فتوى وركولو جرأت پخپله ګمراهي رامنځته كوي ځكه چې دغه ډول چاري د خلكو ژوند ته زيان رسوي لكه چې د جابر بن عبدالله رضى الله عنهما حديث كې هم په همدې ټينګار شوى يو سړى چې ناروغ وو او احتلام

شوی وو نو غسل یي کړی وو بیا چي کله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلي وو نو هغه پدي ټینګار کړی وو چې باید تیمم یي کړی واي.
نو نن ورځ موږ او تاسو ټول دیته اړتیا لرو چې هر یو په مونږ کي پخپل تخصص کې کار وکړي او په هغه څه کي کوښښ او هڅه وکړي چې پري پوهیږي د الله تعالی څخه ویریږو د علم درناوی وکړو او د ټولو هغو خبرو چي کوو خطرونه په پام کې ونیسو ځکه ډیری داسې خبرې شته چې د ویجاړی فساد لامل کیږي نو سکوت د هغه خبرو څخه غوره دی چې ګټه نه رسوي بلکې زیان رسوي نو که یو څوک نه پوهیږي او غلی پاتې شي اختلاف به هم ختم شي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان او باور لري نو دخیر او د ښیګڼې خبره دي وکړي او که نه نو چپ پاتې شي.
یا الله مونږ ته حق را وښایه او د هغي تابعداران مو وګرځوه او باطل هم مونږ ته څرګند کړه او ورڅخه مو وساته مونږ ته ګټور علم راکړه او زیات کړه او مصر همدارنګه د ټولي نړۍ هیوادونه وساته.